د چارو اداره

درېیمه ګڼه | لومړی کال ۱۴۰۳-۱۴۴۶



# اداره امور

- د کابل ختیځ کې مسافرو لپاره د ترمینل جوړولو چارې پیل شوې
- مسوده پلان شهر پل علم ولایت لوګر مورد بحث قرار ګرفت
- د بې کیفیته تېلو واردولو مخنیوي په اړه اقدامات کیږي
- د عامې روغتیا وزارت د ساده شویو پروسو د تطبیق توافقنامه لاسلیک شوه

بسم الله الرحمن الرحيم

# د اداره امور میاشتنۍ مجله

**د امتیاز څښتن:** د چارو اداري لوی ریاست

**مسؤول مدیر:** مفتي احسان الله بدر

**کتنپلاوی:** فضل باري مشفق، مولوي عبدالودود شرافت
مفتي نجیب الله حکیمي، ډاکټر سیف الله خالد، ضیاء الحق رفاه

**خبریالان:** مولوي خیرالله زهیر، محمد شعیب رحیمي
محمد الیاس احمدي، فریدالله عزام

**انځورګر:** محمد عمر علیزی

**ډیزاینران:** وطنیار او فرحت



www.aop.gov.af
media.aop.afg@gmail.com
مرمرینه ماڼۍ، کابل افغانستان
0202143351

شاروالی کابل
Kabul Municipality

# د کابل ښاروالۍ صنفي جوازونو د ستونزې د حل په اړه غونډه ترسره شوه

د چارو ادارې لوی ریاست د پانګونې اسانتیا ریاست په رهبری د کابل ښاروالۍ او د شرکتونو د استازو تر منځ د صنفي جوازونو د ستونزې د حل په موخه غونډه ترسره شوه.

دغه غونډه چې شنبه د (وري دویمه/ رمضان المبارک ۲۲مه) د چارو ادارې لوی ریاست د پانګونې اسانتیا ریاست په د فترکې جوړه شوې وه په پیل کې د پانګونې اسانتیا رئیس مولوي انجینر احمد ضیاء خالد وویل د زیاتو عرائضو او د مشرتابه د هدایت په اساس دغې ستونزې ته باید د حل لاره ولټول شي.

د شرکتونو استازو په خپل نوبت سره د یادې ستونزې په اړه خبرې وکړې او خپلې ستونزې یې د چارو ادارې لوی ریاست د پانګونې اسانتیا رئیس سره شریکې کړې او مقابل لوري هم په خپل وار سره دلایل وړاندې کړل.

په پای کې د چارو ادارې لوی ریاست د پانګونې اسانتیا رئیس پریکړه وکړه چې تر څو د ښاروالیو قانون جوړیږي تر هغه پورې د کابل ښاروالۍ حق نه لري، هغه سوداګر چې د تجارت وزارت جواز ولري خپل صنفي جوازونه ورکړي او یا یې د فعالیت مخه ونیسي.

دا غونډه چې د قرانکریم په تلاوت سره پیل شوې وه د خیر په دعا سره پای ته ورسېده.

پُل علم ښاروالي
Pul-e-Alam Municipality

# مسوده پلان شهر پل علم ولایت لوگر مورد بحث قرار گرفت

جلسه تخنیکی به منظور بحث روی مسوده ماستر پلان شهر پل علم ولایت لوگر میان نمایندگان وزارت شهر سازی و مسکن، ریاست اقتصاد ملی و زیربناها و ریاست طرح و دیزاین امور ساختمانی اداره امور به رهبری مفتی شمس الرحمن، رئیس اقتصاد ملی و زیربناهای اداره امور برگزار شد.

این جلسه یکشنبه (۲۳ رمضان المبارک/سوم حمل) در تالار عمومی جلسات ریاست عمومی اداره امور با تلاوت قرآن کریم آغاز شد.

سپس مفتی شمس الرحمن، رئیس اقتصاد ملی و زیربناها گفت: ماستر پلان برای رشد و انکشاف ساحه شهری یک عنصر بلند مدت است که به عنوان رهنمای اساسی در رشد آینده شهر، مدیریت و تنظیم آن کاربرد دارد و افزود که ترتیب ماستر پلان علاوه بر حفظ محیط زیست و رشد اقتصادی، برای حفظ حقوق نسل های آینده نیز لازم است؛ بدون ماستر پلان شهر ها با مشکلات و سردرگمی روبرو می شود.

نامبرده گفت که پالیسی امارت اسلامی ایجاب می‌کند در کنار استعجالیت اسناد، کیفیت هم در نظر گرفته شود و افزود که ماستر پلان یک موضوع مهم و اساسی است و به شکل بهتر ترتیب شود تا با تطبیق آن مردم متضرر نشوند.

در جلسه رحمت الله قدیری، رئیس پلان جامع ملی وزارت شهر سازی و مسکن در مورد ضرورت و تکمیل پلان مذکور معلومات ارائه کرد و از جانب ریاست اقتصاد ملی و زیربناهای اداره امور خواست که هر چه زودتر این ماستر پلان تکمیل و طی مراحل گردد تا مشکلات مردم حل شود.

در این جلسه نماینده وزارت شهر سازی و مسکن پرزنتیشنی را در مورد ماستر پلان شهر پل علم ولایت لوگر، ارائه کرد و اشتراک کنندگان جهت غنامندی بیشتر ماستر پلان یاد شده نظریات و پیشنهادات خویش را نیز مطرح نمودند.

در این جلسه فیصله گردید که نظریات اشتراک کنندگان در تکمیل مسوده ماستر پلان شهر پل علم در نظر گرفته شود و جهت تصویب به مقام عالی ریاست الوزراء ارائه گردد.

جلسه با دعای خیر پایان یافت.



## د کابینې اتلسمه غونډه: د بې کیفیته تېلو واردولو مخنیوي په اړه اقدامات کیږي

د افغانستان اسلامي امارت د کابینې اتلسمه غونډه د رئیس الوزراء ښاغلي الحاج ملا محمدحسن اخند په مشرۍ دوشنبه « ۱۴۴۶ هجري قمري کال د رمضان المبارک ۲۴مه/ وري څلورمه نیټه تر سره شوه او په کې په یو شمېر موضوعاتو بحث او پرېکړې وشوې.

یاده غونډه چې د قرانکریم په تلاوت پیل شوه، په کې د هیواد په مهمو اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي مسائلو بحثونه او پریکړې وشوې.


په غونډه کې همدا راز ځینې مسائل ځانګړیو پلاویو ته وسپارل شول، تر څو یې چارې نهایي کړي او ګزارش یې د کابینې غونډې ته وړاندې کړي.

په دغه غونډه کې هیواد ته د بې کیفیته تېلو واردولو مخنیوي په اړه د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوی ریاست سرپرست مولوي شمس الدین شریعتي په مشرۍ د ټاکل شوي پلاوي وړاندیزونه تائید شول او اړوندو ادارو ته دنده وسپارل شوه چې د تطبیق په موخه یې اقدامات ترسره کړي.

همدا راز ټولو اداراتو ته دنده وسپارل شوه چې په لویو او وړو پروژو کې د خلکو د استخدام په اړه له کار او ټولنیزو چارو وزارت سره همغږي وکړي او هڅه دې وشي چې د بشري ځواک د استخدام په برخه کې دې په کور دننه خپلو خلکو ته لومړیتوب ورکړل شي.

د یادونې وړ ده چې د کابینې یاده غونډه کې یو شمېر نور موضوعات هم بحث شول او په اړه یې لازم تصامیم ونیول شول.

د کابینې دا غونډه د خیر په دعا سره پای ته ورسېده.



# جلسه هماهنگی برای تقویت طرح اپلیکیشن جدید اداره امور برگزار شد

جلسه هماهنگی و نظرخواهی به‌منظور بهبود و تقویت طرح اپلیکیشن جدید اداره امور، سه‌شنبه (۲۵رمضان المبارک/۵حمل) از سوی ریاست مطبوعات این اداره با حضور سخنگویان ادارات امارتی در تالار جلسات ریاست عمومی اداره امور برگزار شد.

در این جلسه، مفتی احسان الله بدر رئیس مطبوعات و مفتی محمد حسین کوثری، رئیس تکنالوژی معلوماتی اداره امور، همراه با سخنگویان ادارات امارتی حضور داشتند.

مفتی احسان الله بدر خوش‌آمدگویی به اشتراک‌کنندگان، درباره آجندای جلسه توضیح داد و گفت: امارت اسلامی در چهار سال گذشته در بخش‌های مختلف پیشرفت‌های مهمی داشته است و اکنون شاهد گام دیگری در عرصه تکنالوژی و حکومت‌داری الکترونیکی هستیم.

وی افزود که با راه‌اندازی این اپلیکیشن، شهروندان می‌توانند به صورت سریع و آسان به خدمات عامه در کشور دسترسی پیدا کنند.

همچنان در این جلسه مفتی محمد حسین کوثری، رئیس تکنالوژی معلوماتی اداره امور درباره تأمین امنیت سایبری و بهبود کارکرد اپلیکیشن صحبت کرد و تأکید ورزید که هدف اصلی این اپلیکیشن دسترسی آسان مردم به اطلاعات و خدمات عامه است.

در ادامه، تیم تخنیکی ریاست عمومی اداره امور از طریق یک پریزنتیشن جزئیات طرح اپلیکیشن و فعالیت های که تا اکنون انجام شده را به‌صورت جامع تشریح نمودند.

در اخیر، سخنگویان امارت اسلامی دیدگاها، پیشنهادات و سؤالات خود را در مورد این اپلیکیشن مطرح کردند که توسط تیم تخنیکی پاسخ داده شد.

این جلسه که با تلاوت قرآن کریم آغاز شده بود، با دعای خیر به پایان رسید.

# د عامې روغتیا وزارت د ساده شویو پروسو د تطبیق توافقنامه لاسلیک شوه

د چارو اداري لوی ریاست د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو اداره او د عامې روغتیا وزارت ترمنځ د ساده شویو پروسو د تطبیق هوکړه لیک غونډه ترسره شوه، چې په کې د چارو اداري لوی رئیس شیخ الحدیث مولوي نورالحق انور، د عامې روغتیا وزیر مولوي نور جلال جلالي او د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو رئیس شیخ محمد طاوس طارق هم ګډون درلود.

دغه غونډه چې چهارشنبه(رمضان المبارک ۲٦مه/وري ٦مه) د عامې روغتیا وزارت د غونډو په تالار کې جوړه شوې وه، په کې د چارو اداري لوی رئیس شیخ الحدیث مولوي نورالحق انور وویل؛ چې د امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د فرمان په اساس، هېوادوالو ته په ادارو کې د شفافیت ترڅنګ پروسې هم ساده شي ترڅو چارې له خنډ او ځنډ سره مخ نه شي.

د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو معین مولوي عبدالولي حقاني وویل، د پروسو ساده کول مراجعینو ته د اسانتیا برابرولو ترڅنګ د وخت د ضیاع او په چارو کې د خنډ او ځنډ مخنیوی کوي.

د عامې روغتیا وزیر مولوي نور جلال جلالي وویل، موږ په دې هڅه کې یو چې خپلو هېوادوالو ته په ټولو صحي او اداري برخو کې خدمات وړاندې کړو او د پروسو په ساده کولو هېوادوالو ته په چارو کې اسانتیا برابره کړو او ورځنۍ چارې له خنډ او ځنډ څخه وساتل شي.

وروسته د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو اداري رئیس شیخ محمد طاوس طارق وویل؛ د دې تفاهم لیک لاسلیک کول به په ټول هېواد کې مراجعینو ته د عامې روغتیا وزارت اړوندو ادارو کې په اوږدمهال ډول اسانتیاوې رامنځته کړي.

نوموړي وویل، چې له فتحې وروسته د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو اداري په دیارلس وزارتونو کې چې د کار او ټولنیزو چارو، شهداوو او معلولینو، پوهنې، د کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ، کانونو او پټرولیم، عامې روغتیا وزارتونو، د کابل ښاروالۍ او د ښاروالیو چارو د سمون عمومي ریاست اړوند یې ۹۴۳ پروسې ساده کړې دي.

په پای کې تفاهم لیک لاسلیک شو او غونډه د خیر په دعا سره پای ته ورسېده.



## رئیس عمومی اداره امور:
## برای حفاظت از جنگلات کشور قطعه خاص امنیتی ایجاد گردیده است

شیخ‌الحدیث مولوی نورالحق انور، رئیس عمومی اداره امور در مراسم افتتاح کمپاین نهال‌شانی این اداره شرکت و سخنرانی کرد.

این مراسم یکشنبه (۸ شوال/۱۷ حمل) در قصر بالا باغ پغمان برگزار شد که در آن معاونان، رؤسا، آمرین و شماری از کارمندان اداره امور نیز حضور داشتند.

شیخ الحدیث مولوی نورالحق انور با سخنرانی در این محفل گفت: غرس نهال باعث آبادانی زمین، پاکی هوا و بهره‌مندی مردم می‌شود و با حاکمیت امارت اسلامی توجه جدی به نهال شانی و گسترش فضای سبز صورت گرفته است.

وی افزود: پنجاه سال قبل که در کشور جنگ نبود و اشغالگران حضور نداشتند کوه‌های کشور پوشیده از جنگل بود؛ جنگ و حضور اشغالگران باعث شد که درختان به شکل بی رویه قطع و ضایع شوند.

رئیس اداره امور در ادامه سخنان اش بیان داشت: حفظ جنگلات و غرس نهال بارها در مجالس کابینه مورد بحث قرار گرفته است و برای حفاظت از جنگلات کشور قطعه خاص محافظت از ساحات سبز ایجاد گردیده است.

از جانب دیگر مولوی محمد یوسف سعد، رئیس تعمیرات، حفظ و مراقبت اداره امور معلومات مفصلی از فعالیت‌های سال گذشته و برنامه غرس نهال در سال جاری به اشتراک کنندگان معلومات داد.

قابل یادآوری است که این برنامه نهال شانی تحت عنوان «یک کارمند، یک نهال» از سوی ریاست تعمیرات، حفظ و مراقبت راه‌اندازی شده بود و کارمندان ریاست عمومی اداره امور بگونه داوطلبانه هزینه خرید نهال‌ها را پرداخته اند و روند خریداری نیز توسط کمیته موظف صورت گرفته است.

در اخیر محفل، نهال‌هایی توسط مسؤولان و کارمندان ریاست‌های مختلف اداره امور غرس گردید



# د کابل ختیځ کې مسافرو لپاره د ترمینل جوړولو چارې پیل شوې

د چارو ادارې لوی رئیس شیخ الحدیث مولوي نورالحق انور د کابل ختیځ کې د مسافرو لپاره د ترمینل جوړولو غونډه کې ګډون وکړ.

دا غونډه چې یکشنبه (شوال المکرم ۸مه/وري ۱۷مه) د کابل په ختیځ کې جوړه شوې وه، په کې د چارو ادارې لوی رئیس شیخ الحدیث نورالحق انور، د عامې روغتیا وزیر مولوي نور جلال جلالي، د اقتصاد وزیر قاري دین محمد حنیف، د کور او ښار جوړونې وزیر مولوي حمدالله نعماني، د ټرانسپورټ او هوایي چلند مالي او اداري مرستیال مولوي صدیق الله عابد، د کابل والي مولوي امان عبید او نورو مسؤولینو ګډون کړی و.

غونډې ته د چارو ادارې لوی رئیس شیخ الحدیث نورالحق انور په خپله وینا کې وویل: پر حکومت د ملت حق دی چې خپل ملت ته اسانتیاوې برابرې کړي او د خلکو اړتیاوو ته په کتو د هغوی د ستونزو حل ته پاملرنه وکړي.

نوموړي وویل؛ چې دا نظام، هېواد او ځوریدلی ولس په امارتي مسؤولینو حق لري؛ ترڅو له شته فرصت څخه په استفاده د ولس خدمت وکړي، باید د شته فرصتونو له امله د الله تعالی شکر اداء کړو او د یوه سپېڅلي احساس، نوښت او انګېزې له مخې خپل کارونه ترسره کړي.

په غونډه کې د کور او ښار جوړونې وزیر مولوي حمدالله نعماني وویل، اسلامي امارت ولس ته د اسانتیا برابرولو په برخه کې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کوي او په دې ډول پروژو سره هېوادوالو ته کاري چاپېریال برابروي.

د عامې روغتیا وزیر نور جلال جلالي وویل؛ د خوښۍ ځای دی چې د پلچرخي سیمه کې د ختیځو ولایتونو لپاره معیاري ټرانسپورټي ترمینل جوړېږي او په وینا یې چې د اسلامي امارت له بیا واکمنۍ وروسته د امنیت ترڅنګ په ډېرو برخو کې د هېواد د ابادۍ شاهدان یو.

د اقتصاد وزیر قاري دین محمد حنیف وویل چې اسلامي امارت په ټول هېواد کې د پراختیایي پروژو پلي کولو ته ژمن دی او په وینا یې د تېرې اداري نیمه پاتې او نوې پروژې پیل شوي دي، چې د هېواد ټولو وګړو ته به د اسانتیا ترڅنګ د کار زمینه هم برابره کړي.

د کابل ولایت ختیځ کې د مسافر دا ترمینل چې په ۷,۳ جریبه ځمکه کې د ۱۶۲ میلیونه افغانیو په ارزښت جوړېږي، په کې اداري ودانۍ، جومات، د وسایطو د پارکینګ ځای، رسټورانټ او نورې ډېرې اسانتیاوې په پام کې نیول شوي دي.

په پای کې د یاد ترمینل د بنسټ ډبره کېښودل شوه او دا مراسم د خیر په دعا پای ته ورسیدل.




## برنامه آموزشی رهنمودی ارزیابی اجراآت کارکنان خدمات ملکی برای ولسوالان ولایت کابل برگزار گردید

برنامه آموزشی رهنمودی ارزیابی اجراآت کارکنان خدمات ملکی بر اساس هدایت مقام ریاست الوزراء با اشتراک ولسوالان ولسوالی های ١٤ گانه و روئسای واحد های دومی ولایت کابل توسط اصلاحات اداری و خدمات ملکی اداره امور در تالار جلسات مقام ولایت کابل برگزار گردید.

شیخ محمد طاووس طارق، رئیس اداره اصلاحات اداری و خدمات ملکی ریاست عمومی اداره امور امارت اسلامی افغانستان در مورد چگونگی پروسه ارزیابی اجراآت صحبت نمود و افزود که هدف از برگزاری ارزیابی اجراآت کارکنان، بهبود فعالیت های اداره، شفافیت و پاسخگویی و عرضه خدمات بهتر به مراجعین می‌باشد.

ملا امین الله عبید، والی ولایت کابل گفت که یکی از مزایای این پروسه بهبود کیفیت عرضه خدمات از آدرس نظام به مردم است که باعث تقویت و بقای نظام می گردد. وی همچنان افزود که هر فرد خدمات ملکی باید در ساختار اداری سعی و تلاش نماید و هر آمر سعی نماید تا کارکنان تحت اثر خود را تشویق نماید در ساختار اداری سهم خویش را اداء نمایند.

در اخیر کارشناسان ریاست امور حقوقی و پالیسی های خدمات ملکی اداره اصلاحات و خدمات ملکی اداره امور روند ارزیابی اجراآت، اهداف اساسی پلان، شاخص های کلیدی عملکرد و فورم ارزیابی اجراآت کارکنان خدمات ملکی را به تفصیل تشریح و توضیح کردند و به سوالات اشتراک کنندگان پاسخ ارائه نمودند.

این برنامه با تلاوت قرآن عظیم الشان آغاز و دعای خیر خاتمه یافت.




## د امارت د کارکوونکو چارو واحدونو لپاره د برېښنايي حکومتولۍ پروسې تطبيق په اړه غونډه وشوه

د چارو اداري لوی رياست د امارت د تشکيلاتو، بياکتنې، اصلاحاتو او کادري چارو رياست له لوري وزارتونو او ادارو کې د کارکوونکو چارو واحدونو لپاره د برېښنايي حکومتولۍ پروسې تطبيق په اړه غونډه وشوه.

دا غونډه سه شنبه (شوال المکرم ۱۰مه/وري ۱۹مه) د چارو اداري لوی رياست د غونډو په تالار کې ترسره شوه په کې د چارو اداري لوی رئيس شيخ الحديث مولوي نورالحق انور وويل، چې د برېښنايي حکومتولۍ په مرسته اداري چارې ګړندۍ کېږي او ټولو اړوندو چارو ته په کم وخت او ښه توګه رسېدنه کېږي او ټينګار يې وکړ چې د برېښنايي حکومتولۍ د پراختيا او پياوړتيا په اړه دې اړونده اداري خپلمنځي همکاري او همغږي پياوړې کړي.

په غونډه کې د امارت د تشکيلاتو، بياکتنې، اصلاحاتو او کادري چارو رياست له لوري د وزارتونو او امارتي ادارو د کارکوونکو چارو واحدونو استازو لپاره د برېښنايي حکومتولۍ د پروسې تطبيق په اړه پريزنټيشن وړاندې شو.

په دې پريزنټيشن کې د برېښنايي حکومتولۍ پياوړتيا او پراختيا په اړه بېلابېل لارې چارې له ګډونوالو سره شريکې شوې او ورپسې د برېښنايي حکومتولۍ په اړه د ګډونوالو پوښتنو ته ځوابونه وويل شول.

په دې پريزنټيشن کې د کارکوونکو د ګزارش ورکولو، استخدام، تشکيلاتو، سوانحو، د وظايفو لوايح، حاضرۍ، د بايومټريک تطبيق او معاشاتو اړوند موارد تشريح شول، ترڅو د کارکوونکو چارو په برخه کې د وخت د ضياع، خيالي بستونو او اداري فساد مخه ونيول شي.

دا غونډه چې د قرآنکريم په تلاوت پيل شوې وه، د خير په دعا پای ته ورسېده.



## جلسه هماهنگی در مورد اختصاص زمین برای تشبثات کوچک برگزار گردید


جلسه هماهنگی به منظور تحقق حکم امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی پیرامون اختصاص زمین به صنعت کوچک یا تشبثات به رهبری مولوی انجنیر احمد ضیاء خالد رئیس تسهیل سرمایه گذاری اداره امور برگزار شد.

این جلسه شنبه (۱٤ شوال المکرم/ ۲۳ حمل) با اشتراک نمایندگان وزارت های صنعت و تجارت، زراعت، آبیاری و مالداری، شهرسازی و مسکن، شاروالی کابل و ریاست عمومی انسجام امور شاروالی ها در مقر ریاست تسهیل سرمایه گذاری اداره امور برگزار گردید.

در این جلسه نمایندگان ادارات ذیربط در مورد اختصاص حدود ۱۰ الی ۵۰ جریب زمین، در هر ولایت برای ساحات صنعتی نظریات و پیشنهادات خویش را ابراز کردند.

رئیس تسهیل سرمایه گذاری اداره امور نظریات اشتراک کنندگان را استماع نمود و فیصله کرد که واحدهای دومی وزارت صنعت و تجارت در ولایت ها زمین مورد نظر را مشخص سازند تا پروسه انتقال به شکل عملی آغاز گردد.

این جلسه که با تلاوت قرآنکریم آغاز گردیده بود با دعای خیر پایان یافت.



## د کابینې نوولسمه غونډه: راستانه شویو مهاجرینو ته د څمکو وېش لړۍ پر چټکتیا بحث شو

د افغانستان اسلامي امارت د کابینې نوولسمه غونډه د رئیس الوزراء ښاغلي الحاج ملا محمد حسن اخند په مشرۍ دوشنبه(۱۴۴۶ سپوږمیز کال د شوال المکرم۱۶مه/ وري ۲۵مه نېټه) ترسره شوه، چې په کې د یو شمېر موضوعاتو په اړه بحث وشو.

دا غونډه چې د قرانکریم په تلاوت پیل شوه، په کې د هیواد په مهمو، اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي موضوعاتو بحث او پرېکړې وشوې.

د کابینې په دې غونډه کې د مهاجرینو عالي کمیسیون ته دنده وسپارل شوه چې د هیواد په هغو ولایتونو کې چې د مهاجرینو لپاره په کې ښارګوټو ته ځمکې تثبیت شوي دي؛ مستحقو او په شرایطو برابرو راستانه شویو مهاجرینو لپاره دې د ځمکو د توزیع لړۍ پیل شي، ترڅو د ځان لپاره د سر پناه کارونه پیل کړي.

همدا راز د یاد کمیسیون ټولې کمېټې مکلفې کړل شوې چې د راستانه شویو مهاجرینو اړوند خپلو چارو ته متوجه شي او په تثبیت شویو ښارګوټو کې خپلې دندې ترسره کړي.

په دې غونډه کې د احصائیې او معلوماتو ملي ادارې ته دنده وسپارل شوه چې په ایران هیواد کې میشتو افغانانو د هویت د تثبیت لپاره دغه هېواد ته یو ټیم ولیږي تر څو خپلو هیوادوالو ته د پیژندپاڼو او پاسپورټ اخیستلو، تعلیم کولو او نورو برخو کې اسانتیاوې رامنځته شي.

د کابینې دا غونډه د خیر په دعا پای ته ورسېده.



# جلسه به منظور جلوگیری از عنعنات ناپسند برگزار شد

نشستی به هدف ترتیب طرزالعمل جهت تطبیق فرمان عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی در مورد جلوگیری از رواج های ناپسند در محافل خوشی و مراسم غم به رهبری مولوی محمد ربانی ناصح، رئیس امور فرهنگی و اجتماعی اداره امور برگزار شد که در آن نمایندگان وزارت های اطلاعات و فرهنگ، تحصیلات عالی، معارف، امور داخله، ارشاد، حج و اوقاف و سرحدات، اقوام و قبایل اشتراک داشتند.

این جلسه که سه شنبه (۱۷ شوال المکرم/۲۶ حمل) در تالار جلسات اداره امور برگزار شد؛ در نخست رئیس امور فرهنگی و اجتماعی اداره امور گفت: هدف از برگزاری این نشست، فیصله قبلی معینان وزارت های ذیربط به رهبری رئیس عمومی اداره امور است که در مورد تطبیق فرمان یادشده، طرزالعمل ترتیب گردد.

در این جلسه نمایندگان وزارت های یادشده در مورد طرزالعمل جلوگیری از رواج ها ی است که در مورد آگاهی و تطبیق بهتر فرمان جلوگیری از رواج های ناپسند، کمیته های به سطح مرکزی، ولایتی و ولسوالی ها تشکیل شود تا هموطنان به شکل خوب آگاه شوند و فرمان مذکور به شکل بهتر تطبیق شود.

این جلسه با تلاوت قرآن کریم آغاز و دعای خیر پایان یافت.



# د خلکو ستونزو ته رسېدنه؛

## د پوهنې وزارت د ۱۳٦ ساده شویو پروسو هوکړه لیک لاسلیک شو

د چارو ادارې لوی ریاست د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو ادارې او پوهنې وزارت ترمنځ د ساده شویو اداري پروسو د پلي کېدو هوکړه لیک لاسلیک شو.

په دې اړه غونډه چې «چهارشنبه وري ۲۷مه/ شوال المکرم ۱۸مه» د پوهنې وزارت د غونډو په تالار کې جوړه شوې وه؛ په کې د چارو ادارې لوی ریاست د امارت چارو د انسجام مرستیال مولوي سیف الدین تائب، د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو عمومي رئیس شیخ محمد طاووس طارق، د چارو ادارې لوی ریاست او پوهنې وزارت یو شمېر نورو رئیسانو او مسؤولینو ګډون کړی و.

په غونډه کې د چارو ادارې لوی ریاست مرستیال مولوي سیف الدین تائب وویل، اسلامي امارت د خلکو ستونزو ته د رسېدنې په موخه هڅه کوي چې د حکومت په ټولو برخو کې اداري پروسې ساده کړي، خلکو ته اسانتیاوې رامنځته کړي، د وخت د ضیاع او بې ځایه لګښتونو مخه ونیسي، چې په دې سره د امارت او ولس واټن له منځه ځي.

نوموړي زیاته کړه، د اداري پروسو د ساده کولو په پایله کې به د خلکو ستونزې او مراجعینو ته د اوږدو پروسو سره مخ کېدل له منځه ولاړ شي.

شاغلي تائب وویل، هغه هیوادونه چې د حکومتولۍ اداري پروسې یې ساده وي؛ د نورو هیوادونو په نسبت زیات پرمختګ کوي او په وینا یې اړینه ده چې د افغانستان د پرمختګ لپاره په ډېرو برخو کې کار وشي.

په غونډه کې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو ادارې عمومي رئیس شیخ محمد طاووس طارق پخپله وینا کې وویل یادې اداري د اسلامي امارت له بیا واکمنۍ راهیسې تر اوسه په ۱۳ وزارتونو کې د ملکي خدمتونو ۹٤۲ پېچلې اداري پروسې ساده کړې دي او په وینا یې چې د روان کال تر پایه به په ۲۵ وزارتونو او خپلواکو ادارو کې پېچلې پروسې تثبیت کړي او وروسته به یې د ساده کولو عملي بهیر پیل کړي.

د یادونې وړ ده چې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو ادارې او پوهنې وزارت ترمنځ د یوه هوکړه لیک پر بنسټ د پوهنې وزارت په بېلابېلو ریاستونو کې د نږدې لسو میاشتو په موده کې د ملکي خدمتونو اړوند ۱۳٦ پروسې په نښه او ساده کړې.

دا غونډه چې د قرانکریم په تلاوت پیل شوې وه، د خیر په دعا پای ته ورسېده.

اسلامي امارت د خلکو لپاره یو نعمت دی او په ټولو برخو کې متوازن پرمختګ کړی دی.
اسلامي امارت په هېواد کې امن راوستی، چې له امله یې علم ته ښه زمینه برابره شوې ده.
هېوادوال باید خپل ماشومان د علم زده کړې ته واستوي.

شیخ الحدیث مولوي نورالحق انور
د چارو ادارې لوی رئیس